**مفتي فضل هادي سالک**

د شرعياتو پوهنځي استاد

# په اسلامي او غير اسلامي نظامونو کې د اقتصادي ستونزو حل لاره

## سریزه

شک نشته چې ټولنیزمعشیت کې اقتصاد دملا دتیر حثیثت لري ،اوکومه ټولنه ،کورنۍ او وګړې چې اقتصادي ژوند باندې باوري وي، هغه به دفقراو بي وسۍ سره هيڅکله لاس وګريوان نشي ،همداسې چې کوم هيوادکې اقتصادي پرينسيپونه په پام ونيول شي ،هغه ملک به يو بډايه اوپه پښو ولاړ شتمن هيوادوي. اسلام هم اقتصادي ژوند ته ترتبذيري او تقتيري ژوند ترجيح ورکوي، لکه لاندې الهي لارښوونې ددې ښه ثبوت دی.د اقتصاد په تشريع او تقنين باندې ترټولو ښه دليل دقران کريم(المداينة)آيت دی ،چې تر ټولو او اوږد او د اقتصاد سره اړوند دی.

الله تعالی فرمايې چې :{ وَلاَ تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلاَ تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَحْسُوراً }الاسراء ٢٩)

ژباړه: مه خپل لاس ترغاړې تړه او مه يې بشپړ غځيدلی پريږده ،چې پړاو بي وسه پاتې نشي .يعنې مه بخيل توب او شومتوب کوه او مه بيځايه اسراف کوه بلکې په لګښتونو اومصارفو کې داعتدال او اقتصاد له اصل نه ګټه واخله .

وقال تعالى: (وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ وَلَكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ) . [الأعراف:٩٦.

ژباړه: که دکليو خلکو ايمان راوړی وی ،اودپرهيزګاری کړنلاره يې خپله کړای وی نوموږبه پرهغوئ دآسمان اوځمکې دبرکتونو دروازې

خلاصي کړی وی ،خوهغوئ ددرواغو نسبت وکړ ،نوموږ ځکه دهغوئ ناوړه گټي له امله هغوئ ونیول چې راغونډولي یې .

پدې آیت کریمه راغلل چې ایمان او تقوی دداسلامی اقتصاد ترټول مهم اساس دی ،په ټولنه کې برکت او مینه همدا دوه عنصره رامیځته کوي ،لکه اقتصاد پوهان چې وایې داقتصاد موخه دیوې باثباته اوپرځان بسیا ټولنې رامنځته کول دي .

داقتصاد دغواروي په باره کې داحدیث شریف خورا مهم دلیل دی چې : عن نافع عن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : الاقتصاد في النفقة نصف المعيشة والتودد إلى الناس نصف العقل وحسن السؤال نصف العلم.

(شعب الایمان لابی بکر البیهقی/المعجم الاوسط لابی القاسم الطبرانی)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې : په لگښت اومصارفو کې منځلاریتوب نیم معیشت دی ،خلکو سره مینه نیم عقل دی اوښه پوښتنه نیم علم دی.

الله تعالی فرمایي{ يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ} .

الله تعالی فرمایي چې هرلمانځه ته لباس یا جامې واغوندئ او خوراک اوڅښاک کوئ خواسراف مه کوئ ځکه الله اسراف نه خوښوي .

دې آیت کریمه کې درې خبرې راغلې ،یوداچې لمونځونه اوطوافونه بربنډ مه کوئ ،بل خوراک هم کوئ او څښاک هم کوئ ،بل داچې اسراف یا له ټاکل شوې اندازې نه تیری مه کوئ ،یعنې په خوراک، څښاک اوحتی لباس کې اسراف مه کوئ او له اړتیا پرته یې مه کاروئ ،یعني داشیان درته حلال دي تاسو یې حرمت خواته مه بوځئ اوځیني علماء وایې چې له اړتیا

اوقدر الجاجة دجواز حد ټاکلی دی. لکه څنګه چې ابن العربی په خپل تفسیر احکام القران کې لیکي :داسراف په حکم کې دعلماوو اختلاف دی ،ځینې یې حرام او ځینې ورته مکروه وایې،خودابن العربي به نظر کراهیت یې درست دی داځکه چې دعمرونو ،سن وسال ،زمان ،سیمواوبدنونوپه تناظرکې دانسان دمړوالې اواړتیا په وجه تفاوتونه موجود دي ،نوځکه یې مکرووالی ښه قول دی. دلته فوق الذکر ایت کریمه کې داسلامی اقتصاد یو عمده اصل ذکر شو،چې هغه اعتدال او خوراک ،څښاک کې منځلایتوب دی،چې نه افراط اونه پکې تفریط وي. بل داچې دتوحید او ایمان نور پخپله داسلامی اقتصاد یو عمده اصل دی ،مومن شخص په مقتصد ډول خوراك او څښاك کوي،په متوسط ډول لباس اغوندي اوحتی په مدنی او فامیلي ژوند کې معتدل او مقتصد وي ،چې مالی مسایلو کې هم پدې اقتصاد باوري وي ،خوکافربیا پدې ټولواړخونو کې داسراف اوتعدی ترپولې اوختی وي ،که له یوې خوانه یې مالي منابع ډیرط وي نو له بلې خوا یې دلګښت کچه هم ترمومن زیاته وي ،لکه همداخبره احکام القران لابن العربی )کې د یوه حدیث په راوړلو سره داسې رانقل شوې : وَقَدْ ثَبَتَ فِي الصَّحِيحِ { أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ لِرَجُلٍ كَافِرٍ بِحِلَابِ سَبْعِ شِيَاهٍ ، فَشَرِبَهَا ثُمَّ آمَنَ ، فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى أَكْثَرَ مِنْ حَلْبِ شَاةٍ .دې حدیث کې دا ثابته شوه، چې یو کس چې لومړی کافروو ،نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته امر وکړ،چې داوو میږو شیدې ترلوشلو وروسته وڅښي،خوچې کله یې ایمان راوړ نوبیا یې دیوې میږې څخه دزیاتومیږو دشیدو په څښلو قدرت ونه موند.

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الْمُؤْمِنُ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ ، وَالْكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ } ؛ وَذَلِكَ أَنَّ الْقَلْبَ لَمَّا تَنَوَّرَ بِالتَّوْحِيدِ نَظَرَ إِلَى الطَّعَامِ بِعَيْنِ التَّقْوَى عَلَى الطَّاعَةِ ، فَأَخَذَ مِنْهُ قَدْرَ الْحَاجَةِ ، وَحِينَ كَانَ مُكْظَلِمًا بِالْكُفْرِ كَانَ أَكْلُهُ كَالْبَهِيمَةِ تَرْتَعُ حَتَّى تَثْلِطَ . (احكام القران لابن العربي)

## پیلیزه

ټول نظامونه پردې متفق دي، چې اقتصادي ستونزه شتون لري، لازمه ده چې دحل لارې يې ولټول شي خوددغې ستونزې په حل کې هرنظام بېلابېل نظريات لري ددې څېرکي ترلوستلووروسته به يې لوستونکيوته په راتلونکيو سلايډونوکې توضيح کړو!

د لويديز پانګوال اقتصادي نظام پردې باور لري، چې اقتصادي اساسي ستونزه په نسبي ډول دطبيعي مواردولږوالى اودانساني حاجتونو زياتوالى دى دا ځکه چې ځمکه محدوده ده هغه ځمکه چې انسان پرې اوسېږي امکان نه لري چې دکميت په لحاظ زياته شي اويايې په طبيعي شتمنيو کې څه زياتوالى رامينځته شي سره له دې چې بشري نفوس ورځ په ورځ زياتېږي اودتمدن دپرمختګ سره انساني اړتياوې زيات والى مومي دځمکې موجوده شتمنى ددې ټولو خلکواړتياؤ مثبت ځواب نه شي ويلى نودخلکودضروورياتوداشباع په جهت کې تکررامينځته کېږي ،همدغه دااقتصادي ستونزې منشا ء ده، نو دپانګوالى له نظره اقتصادي ستونزه داده، چې دځمکې دمخ بيعي موارد اوشتمنى داوسني تمدن اړتياوو ته مثبت ځواب نه شي ويلى ،داځکه چې انساني نفوس ورځ په ورځ مخ په

زیاتېدودی نولازمه برېښي چې انساني نسلونه تحدید اودزیات والی مخه یې ونیول شي .

## اقتصادي ستونزه دمارکسستي فلسفې له نظره

مارکسېزم وایي چې اقتصادي ستونزه دتولید په اشکالو اودتوزیع په مربوطاتوکې رامینځته کېږي په دې توګه چې دځمکې په کرکیله کې بزګرخولې تویې کړي او حاصل یې رامینځته کړی په همدې توګه په کارخانوکې خام مواد په پخودکاریګر دلاسونو په تنهاکو بدل شوي مګر دبزګراوکاریګر دلاس محصول فیوډال اوسرمایه دار ترلاسه کوي پس هرکله چې دتولید په اشکالو اودتوزیع په مربوطاتو کې توازن رامینځته شي نودغې ستونزې ته به دپای ټکی کېښودل په دې توګه چې دوینوسور بدلون دې رامینځته ،دځمکوالو اوپانګوالو ژوندته دې د پای ټکی کېښودل شي ،ښځه ،ځمکه اوزردې مشترکه شتمني وګڼل شي فردي مالکیت دلغوه اعلان او هرڅوک‌دې دوس په اندازه کاروکړي اودضرورت په اندازه دې اجوره واخلي.

## اقتصادي ستونزه اوپه اسلام کې یې دحل لارې

اسلام له پانګوالې اوکمونېزم دواړوسره مخالف دی اسلام دستونزې درامینځته کېدو اصلي عامل نه کاینات اونه دتولید اشکال اونه دتوزیع مربوطات ګڼي، بلکې دستونزې اصلي لامل انسان دی دانسان ظلم اوکفرستونزه رامینځته کړې ده قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي :اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ

مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الأَنْهَارَ(٣٢) وَسَخَّر لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَينَ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ(٣٣) وَآتَاكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَتَ اللّهِ لاَ تُحْصُوهَا إِنَّ الإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ(٣٤)إبراهيم / دغه مبارك اياتونه يې ښرګندوي چې الله تعالى په دغو ارتو كايناتو كې دانسان لپاره دومره نعمتونه تياركړي دي، چې هېڅكله په شمېركې نه شي راتلاى، كاينات دټولو انسانانو دضروورياتودپوره كولو لپاره مثبت ځواب وايي، لېكن انسان ناشكره دى، له كايناتويې استفاده نه ده كړې، دلمربې پايانه وړانګې ، دا غرونه اورغونه ټول شاړپراته دي ،دمثال په توګه دافغانستان اباده اراضي څلورسوه ميليونه انسانانوته ډوډی وركوي ،په داسې حال كې چې د نيم څخه زيات هېواد مو شاړې دشتې دي ،ترڅمكې لاندې يې په دوه مترو كې اوبه دي.

په همدې توګه دلويديز پانګوال نظام او دعرضې اوتقاضاترمېنځ دتعادل درامينځته كولو لپاره دخوراكي توكوبېلابېل ډولونه په زرګونوټنه سيندته غورځوي ،په داسې حال چې په اسيااو افريقاكې زياتره هېوادونه له لوږې رنځ وړي ،په همدې توګه دستونزې بل عامل ظلم دى، ظلم دې ته وايي چې حق ستادى مګرپه زوره ترېنه بل څوك ګټه اخلي، دا اوس په نړۍ كې دجګړو اصلي لامل دانسان وحشت اوظلم دى ،انسان په خپل حق بسنه نه كوي ،بلكې دبل په حق خېټه اچوي اوپه تېري اووحشت لاس پورې كوي ،ننى مهذب انسان ترټولو زيات جنايت كار اووحشي دى نړۍ يې له ظلمه ډكه كړې ده په استثمار اواستعمار لاس پورې كوي انسانان وژني ښارونه ورانوي اوپه ستروجنايتونو لاس پورې كوي نوپردې اساس كه

دژوندله ډگره ناشکري اوظلم کډه وکړي نوانساني ژوند به دامن ،خوشالی ،مينې اومحبت عدالت صداقت او امانت زانگوجوړه شي

## موخې

۱. اقتصادي ستونزې بيانول او داسلامي داقتصادي نظام په گډون د نورونړيوالو اقتصادي نظامونوله نظره ورته حل موندل .

۲. داخبره کره کول ،چې اسلام هم يو منل شوی اقتصادي نظام لري اوددې نظام لپاره غښتلې قواعد او حکمونه هم لري .

۳. دا په زباد رسول، چې بشري اقتصادي طرحې زائليدونکې او يوازې اسلامي اقتصادي نظام دی، چې تلپاتې او دوحی له منبع نه سرچينه اخلي .

## اقتصاد پيژندنه (Economics)

### په لغت او اصطلاح کې داقتصاد پيژندنه

اقتصادپه لغت کې دقصد له کلمې څخه اخستل شوی چې لاندې معاني ورکوي :

۱. ټينگښت (استقامت): لکه عربان چې وايې :اقتصد فلان في امره ای استقام .

۲. بيان : لکه الله تعالی فرمايې چې :وعلی الله قصد السبيل /النحل ۹ آيت.

۳. اسانی : لکه عربان وايې چې:طريق قاصد .ژ: اسانه لاره .

۴. منځلاريتوب :لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :(القصد القصد )ژ:مينځلاريتوب وکړئ ،مينځلاريتوب وکړئ.

۵. افراط نه کول :لکه دلسان العرب لیکوال وايي چې :القصد فی الشئ خلاف الافراط وهوما بین الاسراف والتقتیر.

٦. طویل :لکه لکه اخفش چې وايي :القصیدة من الشعر هوالطویل .

اوداسې نور...............

**اقتصاد په اصطلاح کې:** په اصطلاح کې اقتصاد په ډیرو معانیوو سره کارول کیږي چې مونږبه يې ترې یوازې دوه تعریفه راواخلو :

*لومړی تعریف*: اقتصاد په اصطلاح کې دهغو تدابیرو ټولګه ده چې دانسان دبې شمیره غوښتنواودانسان په لاس کې دشته محدودو وسایلو او امکاناتوتر مینځ هماهنګي ټینګوي !

*دویم تعریف*: اقتصادپه اصطلاح کې دلږ ناچیز او ټاکلو امکاناتوپه واسطه دلویې او غټې پایلې یا موخې ترلاسه کولو ته وايې .

**اسلامي اقتصاد په اصطلاح کې** : شیخ قحطاني يې داسې تعریفوي :الاحکام والقواعد الشرعیة التي تنظم کسب المال وانفاقه واوجه تنمیته /ژ :داهغه شرعي حکمونه اوقواعد دي چې دمال او نفقې دلاسته راوړلو اوپرمختګ لارې چارې تنظیموي.

د (النظام الاقتصادی فی الاسلام) مولف شیخ قحطانی په آند داهغه حکمونه اوقواعد دي چې عایدات، مصارف او د ټولنې د پرمختګ لارې چارې د اسلامی شریعت په چوکاټ او د ټولنې هر غړي ته دخدمت کولو په پام کې نیولو سره داسې تنظیموي چې د دنیا او اخرت بریالیتوب او نیکمرغي پکې وي.

**د تعریف سپړنه**

۱. حکمونه: دامعنی چې اسلام کې اقتصاد فرض ،واجب ،سنت ،مستحب ،مکروه ،حلال او حرام لري.

۲. قواعد: د اقتصاد علم هم د نورو علومو په څېر اصول، قواعد او فورولونه او بیلابیلې اقتصادي برنامې لري.

۳. عایدات، مصارف او دټولنې دپرمختګ لارې : په اسلامی اقتصادکې دعایداتو ،مصارفواوټولنې دپرمختګ اړوند بحثونه کیږي .

۴. بیلابیلو برخو کې :اسلامي اقتصاد یوازې دمصارفو اوعایداتو په بحثونوپورې نه اړوندیږي، بلکې بیلابیلې اقتصادي برنامې لري ،لکه ښوونه او روزنه ،روغتیا ،دزیرموساتنه اوددې دپرمختګ اصول ترڅېړنې لاندې نیسي .

۵. داسلامي شریعت په چوکاټ کې: داسلامي اقتصاد علم دعایداتومصارف او بیلابیلواقتصادي پرمختګونولپاره قیدونه او چوکاټونه لري ،چې ځینې عایدات روا او ځینې ناروا بولې ،همدارنګه ځینې مصارف روا او ځینې نور ناروا ګڼي ،داسلامي اقتصاد علم دښوونیز اوروغتیایي خدمتونولپاره هم داسلامي اخلاقو په رڼا کې قیدونه ږدي. دشتمنیو او مالونو ساتنه هم داسلامي شریعت په چوکاټ کې اسلامې برنامې لري .

۶. فرد اوټولنې ته دخدمت کولونه بحث کوي: داسلاي اقتصاد موخه او غرض فرد اوټولنې ته خدمت کول دي ،له همدې امله اسلامي اقتصاد مزدوج(دوه اړخیزه) دی ،چې دې نظام کې فرد او ټولنې دواړو ګټې په نظر

کې نیول شوې دي ،چې برعکس په پانګه وال یا کاپیټالیستې اقتصاد کې یوازې دفرد ګټې په سوسیالیستې اقتصادی نظریې کې یوازې ټولنیزې ګټې په پام کې نیول شوې دي چې اسلامي اقتصاد بیا دا ددواړوګټې په پام کې نیسي .

۷. ددنیا اوخرت نیکمرغي: اسلامي اقتصاد نه یوازې دنیاوې ګټې لرې چې مسلمانان ،ټولنه ،اوحکومت له فقر،ذلت ،وروسته والې څخه ژغوري ،بلکې ددوئ اخروي نیکمرغي هم په پام کې نیسي ،چې په اسلای اقتصاد کې الهي حکمونو په ترسره کولوسره انسان دالله تعالی رضا اواخروی ګټې هم ترلاسه کوي .

## مال د اسلام په اقتصادي نظام کې د خورا مهم عنصر په توګه

لغت کې: هر هغه شئ چې انسان د هغه څښتن کېدای شي مال بلل کیږي، لکه سره زر، نقره، کاغذی روپۍ، ځمکه، شرکت، فابریکه، الوتکه، موټر، کمپیوتر او تلفون .....

اصطلاح کې: اسلامي پوهانو مال په بیلابیلو تعریفونو سره پیژندلی دی. علامه ابن عابدین شامی رح وایې: مال هغه څه ته وایې چې انسان هغه ته لیوالتیا ښیي اوزیرمه کول یې شونې وي.

علام ابن العربی المالکی وایې: هرهغه شئ چې تمه ورته کیدای شي، شرعا او عادتا د ګټې اخستلو وړ وي.

خبیب شربینی وایې: چې مال په شریعت کې هغه څه ته وایې چې ګټه اخیستل ور څخه مطلق مباح وي، او یا یې له اړتیا پرته لاسته راوړنه هم مباح وي.

مال دارزښت او بيي له مخې يو متقوم او بل غير متقوم دی.

مال دظاهري بڼې اوجوړښت له مخې مثلي او قيمي دی.

## له نوروڼظامونوسره داسلام داقتصادي نظام پرتلنه يا مقايسه پيليزه

د شلمې پيړی په نيمايي کې نړی په دوو بلاکونو شرقي اوغربي وويشل شوه په اسلامي نړی کې فقر،جهل بېوزلي، نيستې اوطبقاتي سيستم حاکم ؤداسلام ټولودښمنانوپه اسلام پسې په پروپاګندلاس پورې کړچې دغه دين يوازې دفرداړيکه له خپل رب سره تنظيموي له اقتصاداوسياست سره يې کارنشته دمسلمانانوځنې اولادونه له دغو افکارواغيزمن شول ځنو اسلام غرب اوځينو شرق پورې وتړلو په داسې حال کې چې اسلام جلااقتصاد ي نظام لري اودوحی له سرچينې څخه خړوبيږ ي ددغه څپرکي زده ئيزی موخې دفيوډالي ،کاپيټالستی،کمونستی، سوسيالستي ،مختلط نظام اوداسلام داقتصادی نظام ترمنځ مقايسه اوپرهغونيوکه ده

## د اروپا فيوډالي نظام ( Fuddle system)

ډيرپخوانی اقتصادي زوړ اوفرسوده سيستم فيوډالي نظام دی چې په رومي ملت کې سابقه لري په ټوله اسيا افريقا اواروپاکې رايج ؤددغه نظام اصلی امتداددلسمې ميلادي پيړی څخه تر شپاړلسمې ميلادي پورې غځول کيږي په منځنيو پيړيوکې اروپايي ټولنه په درې طبقو مشتمله وه :

۱:داشرافواوخانانو طبقه

۲:دغلامانواوبې وزلوطبقه

۳: دکليسادينې شخصيتونه

**د اشرافو طبقه**

د اشرافو او خانانوطبقې ميراثي شکل درلود ځامن به يې له پيدايښته ترمړينې پورې اشراف ؤ دوی ځانګړی امتيازات درلودل ،داروپاخان خانی نظام نه يواځې داچې پراخه په زرګونه جريبه ځمکې يې په لاس کې وې بلکې سياسي اقتدارهم له دوی سره ؤ خپل قاضيان،دفتر،اداري نظام اوپيسې يې درلودې مګر له يوه ښاره تربله يې جلا نظام ؤ،په نهمه ميلادي پيړی کې دانګلستان پاچافريداعظم ويلي ؤ الله تعالی انسانان دمثلث به بڼه پيداکړي دي يوه ضلعه يې حاکمه ده اوبله يې عابده ده اودرييمه يې خادمه ده حاکمه طبقه به واکمنه وي اوعابده طبقه ديني شخصيتونه دي دوی به يواځې په عبادت لاس پورې کوي اولانديڼی‌ضلعه دغلامانو او خدمتګارانو ده دوی به تل په چوپړ کې اوسي.

**دغلامی نظام**

غلام اودغلام اولاداودده ټوله شتمني دخان ملکيت ګڼل کېده اودهېڅ رنګ ازادی ښخه برخمن نه ؤ په رومي تمدن کې غلامان ترمرګه پورې غلامان ؤدځمکې په خرڅون سره به يې دغلام ،مېرمن ،اولادونه اوڅاروي هم ورسره يوځای خرڅول، خانان به په قصرونو کې اوسېدل مګرخوارغريب غلام به دژمي په موسم کې له خپلې مېرمن ،اولادونواوڅارويوسره يوځای په ختينوکورونوکې ژوند ترسره کاوه.

**د کليسا ديني شخصيتونه**

دوی به ځانګړی لباس اغوست له خلکو به يې جلا ټکسونه اخيستل اولښکرې به يې هم درلودلې تردې چې شاهان به يې دقدرت په ګدی

کښېنول ،خلکوته يې دجنت ټکسونه ورکول اوويل به يې چې دوی دالله تعالی نمايندگان دي اوهره خبره يې دالله تعالی څخه نمايندگي کوي .

## سرمايه داري نظام (Capitalism)

### پېژندنه

پانگواله يواقتصادي نظام دی چې دشخصي ملکيت دازادۍ پربنسټ يې داساس ډبره ايښودل شوې دمال په لاسته راوړلو اومصرف کې دهېڅ رنگ قيوداتوپابند نه وي دفيوډالېزم ځای نيوونکی ده.دتوليدټول وسايل ځمکې بانکونه،اوکارخانې ديوې کوچنۍ ډلې په لاس کې پرېږدي. نوسياسي ځواک هم دوی څرخوي اوداستعمارسرچينه گڼل کېږي دغه سيستم پانگوال هڅوي ترڅو د خامو موادو او د خپلو توليد شويو توکو د خرڅلاو لپاره بازار پيدا کړي، نو د جگړو اور تود ساتي هلې ځلې کوي ترڅو ملتونه ښکېل کړي.

### فکري بنسټونه يې

دپانگوالې نظام اعتقادي اوفکري ريښه روماني فلسفه تشکيلوي دعيسی عليه السلام له ښوونوسره يې هېڅ تړاؤ نشته.

### د رامنځته کېدو ظروف يې

په شپاړلسمه پېړۍ‌په اروپاکې دصنعتي انقلاب په رامنځته کېدوسره فيوډالي نظام سقوط وکړاوپه سرمايه داري نظام بدل شو په فيوډالي نظام کې دتوليد وسيله ځمکه اوپه سرمايه داري نظام کې پيسې وي.

**اقتصادي بنسټونه يې**

- دتولید دټولووسايلو (ځمکې،پانګې اوکارخانو)فردي ملکيت.
- دمال په لاسته راوړلو اومصرف کې فردي ازادي
- دپيسو په لاسته راوړلوکې يوتربله سيالي او رقابت
- دقېمتونودعرضې اوتقاضاد نظام ازادي

د دولت دنده د اقتصادي فعاليتونه سانسورول د شتمنيو ساتنه او امن دی په د مزدور د عرضې او تقاضا قانون جاري کول د دې لامل وګرځېده چې بنځې اونرټول کاروکړی په نتيجه کې ټولنيزې اړيکې وشړېدلې اوکورنی نظام له منځه لاړ

**عملي پايلې يې**

۱-په اقتصاداوسياست نفوذ: دوی دخپلوکمپنيو له لارې په خارجي بازارونو اودنورو هېوادونو په سياست کې هم ګوتې وهي دوی دبين المللي استعمار لامل هم ګڼل کيږی دجګړو اورته لمن وهي ملتونه اودولتونه ترخپلې غلامی لاندې راولي

۲ – په پانګوالو اومزدورانو دټولنې وېش: په دې توګه چې دمزدورانو دلاس ګټه ددوی جيب ته ځي اوپه مزدوره طبقه دعرضې اوتقاضا قانون جاري کوي.

۳ - یوازې سرمایه دارله شخصي حریت څخه برخمن وي دخپل مال اوثروت په وسیله خپل طرزفکر اوحاکمیت تحمیلوي اوټولنه ترخپل کنترول اونفوذ لاندې ساتي.

۴- پانگواله طبقه په یو دولت کې بل دولت گټل کیږي دزرگونومزدورانو په رایو لوبې کوي اوکه رایه ورنه کړي له کاره یې گوښه کوي اوهم لوی پانگوال دخامومواودولاسته راوړلواوپه بازارونودولکې دټینگولو لپاره دجگړوبازارگرم ساتي اوس مهال دجگړواساسي لامل په لویدیځ کې دوسلو جوړولو لویې کمپنۍ دي دوی دخپلووسلودخرڅون په خاطرپه نړۍ کې دجگړواورتود ساتي دوروسته پاتې هېوادونو بانفوذه شخصیتونه دخپلو پیسو په وسیله ترخپل اغیزلاندې راولي .اونړۍ وال رقابتونه پیلوي.

۵- دوروسته پاتې هېوادونوڅخه گټه اخیستل په دې توگه چې دخامو موادو داستحصال ذریعه اودپخوموادودخرڅلاؤدبازار حیثیت لري.
٦- پانگوال داخلاقي فسادپه لور:لوی پانگوال په خپله په فساداوعیاشۍ اخته وي اودفحاشۍ سترمراکز لري اوله دغې لارې ستره پانگه لاسته راوړي.

## نیمگړتیاوې او عیبونه یې

۱-ټولنه په دووطبقو عیاشوشتمنواوخوارونیستمنوویشي

۲-د دواړو طبقاتو ترمنځ کینه او حسد چې ځینې وخت په طبقاتي شخړو پای ته رسیږي

۳- شتمن اودهوی اوهوس څښتنان دخپل مال په وسیله لوي سیاسي نفوذ پیداکوي دخپلو ګټودتامین اوپه بازارونواوخامو موادودقبضې په خاطردجګړ واورتودساتي .

۴- دمال په لاسته راوړلوکې ټولنیزوګټوته زیان اړوي په سود اواحتکارلاس پورې کوي نرخونه لوړیږ ي اودخلکو هډ وکي شپېلوی اودخلکو وینې څښي.

۵- په ټولنه کې اخلاقي فسادوده کوي زیاته پانګه په زنا لواطت، شرابو، اودخلکودضمیر په اخیستلو په لګښت رسیږ ي زیاتره پانګوال لوټمارې اوداړه مارې د لې لري په اختطافونواودسیاست والو په وېرولو اوتهدید ولولاس پورې کوي.

٦-انانیت اوشخصي ګټې : په دې توګه ډیرلږخلک په بازارونواواقتصادي سرچینوخېټه اچوي ټولنیزې ګټې په شخصي ګټوقربانوي.

۷-دشتمنی په وېش کې لوی خلل: په دې ډول چې دټولنې کوچنی طبقه دتولیددټولووسایلوڅښتنه اوپه مزواوچړچوکې ژوندتېروي اوبله طبقه یوه مړی ډوډی نه مومي ټولنه په دووپاټکیوووېشل شي شتمن اونېستمن،په پای کې ټولنه بې توازنه شي.

۸-سیالي اورقابت: په دغه نظام کې څواکمن پانګوال کمزوری شتمن له منځه وړي په دې توګه څواکمن شتمن دجنس دنرخ په ټیټولو سره کمزوری

شتمن ځیې اوله میدانه یې وباسي چې میدان ورته خوشې شي نرخونه اسمان ته لوړوي

۹-الهي نعمتونه له منځه وړل : سرمایه داردنرخودتعادل په خاطر زیات سامان اوخوراکي توکي سیندته غورځوي په ۱۹۳۴م کال په پانګوالو هېوادونوکې دوه میلیونه اوځلوېښت زره خلك له لوږې سره مخامخ ؤ؛مګردامریکادمتحده ایالاتوپانګوالویومیلیون کراچۍ غله دانه دوه لکه او اوه شپېته زره ټنه بوره دوه لکه اوشپېته زره ټنه وریجې اوپنځه ویشت زره ټنه غوښه اونور مواد دعرضې اوتقاضا دتعادل په خاطرسمندرته وغورځول .

۱۰-بې کاري : په دې توګه چې زیات تولید او د لګښت کمبود او د نویو وسایلو په ایجاد سره په لکونوکاریګر، وزګار او له کاره ګوښه کړی شول.

۱۱-اخ اوډب: په دغه نظام کې دپانګوالو اوکاریګرو ترمنځ تل ټکر اخ اوډب روان وي .

۱۲-ماده پرستي:پانګواله نظام انسان ته دمادي موجود په سترګه ګوري روحاني اواخلاقي فضیلتونه ترپښولاندې کوي.

۱۳-دلوکس شیانوتولید: پانګواله نظام دبشرداړتیاوړشیان په نظرکې نه نیسي بلکې دتل لپاره عیاشانه دلوکس شیانوپه جوړولولاس پورې کوي موخه یې دزیاتې ګټې پلټنه وي .

۱۴-عصبي لېونتوب: ددغه سخت زړي نظام وروستی نتیجه عصبي لېونتوب، ځان وژنه، مخدرات، جرایم او نشې دي چې په نتیجه کې یې

کورنۍ نظام وشړېږي اوماشومان اواولادونه له کوره وشړل شي انساني اخلاقي لوړارزښتونه ترپښولاندې اوله انسان څخه داسې وحشي ژوی جوړشي چې په ځنګله کې يې وحشي ځناورپه وحشت کې وشرمول.

**په پانګوالې د اسلام اقتصاد د لوړتيا وجوهات**

په پانګواله نظام کې فرد دشتمنۍحقيقي څښتن وي. په اسلامي اقتصاد کې د شتمنيوحقيقي مالک الله او د انسان مقام دخليفه دی، دلته يواځې فردي ملکيت دی په اسلام کې دوه ډوله ملکيتونه دي فردي او اجتماعي دي

په پانګواله نظام کې مال دژوند هدف دی، مګر په اسلام کې مال اوشتمني د ژوندتېرولو وسيله ده پانګواله سرکښ اومستبدنظام دی . اسلام دمالي طغيان اواستبداد څخه مسلمان ساتي.

پانګواله ټولنه په شتمنواونيستمنودوو طبقو وېشي. مګر اسلام ددواړو ترمنځ تعادل برابروي. په پانګواله نظام کې زکات شتون نه لري. اسلام دمسلمان په مال کې زکات لازم ګرځولی دی.

په پانګواله نظام کې فردي ملکيت له هررنګه قيوداتو ازاد او د حرامو او حلالوبېلتون نه و. دلويديځ اقتصاددپلارادم سميت دويناپراساس پرېږده چې کاروکړي دلته دروا اوناروا وسايلوامتيازنشته له هرې لارې نه چې ممکن وي پيسې په لاس راوړل دي که دسود اواحتکارله لارې وي اويادقماراولا ټري اويادمخدراتو،شرابو،دموسيقۍ،ګډا،نڅا اوزنا دهډودجوړولو له لارې.مګر په اسلام کې دحراماوحلالو قيودات دي. داسلام اقتصادي نظام دفردپه اقتصادي ازادۍ اعتراف کوي نه يې دکمونېزم په څېرمصادره کوي

اونه يې ازاد بېواګوپرېږدي .اسلامي دولت کولی شي چې په مباشر ډول په اقتصادي فعاليتونو نظارت وکړي دسود،احتکار،غصب،قمار ،دوکې اوانفلاسيون مخه نيسي ځکه چې سودي اوناروافعاليتونه ټولنې ته اقتصادي ،ټولنيز،اواخلاقي زيانونه وراړوي .

## کمونيزم (Communism)

کمون په عامه توګه هغې ډلې ته ويل کيږي چې دچارودادارې په خاطر يوله بل سره همکاري کوي اودلوړومقاماتودلاس وهنې څخه پرته کارونه سموي،په ځينواروپايي هيوادونوکې يوکوچني اداري واحدته هم کمون وايي. خوکمونېزم له يوټولنيزاقتصادي نظام څخه عبارت دی چې په ټولوشيانوکې دخلکوپه مشارکت باورلري لکه خوراک څښاک ،پوښاک، کور،اوزدواج اويايه بله اصطلاح ددرې شيانواشتراک پيسی، ښځه اوځمکه ،دکمونستي نظام طرحه چې مارکس جوړه کړې ده مثال يې شفاخانې اوياعسکري پايګاه ته ورته ده چې هلته ورڅخه خلک مؤقته استفاده کوي کمونيزم دداسې ټولنې په پښنودرول غواړی چې هلته فردي مالکيت نه وي بلکی ټول يې وخوري ويې څښی، وايې اغوندي اودهشي اوډله ئيزازدواج وکړی اوپه کارلاس پورې کړې.

په کمونستي نظام کې دتوليدوسايل ،ځمکې ،کارخانې ،تعميرونه ،بانکونه ،شرکتونه ټول هرڅه دولتي وي په دې نظام کې نه څوک ځمکه لري ،نه کارخانه نه موټرې اونه بانکونه بلکې هرڅه ددولت په لاس کې وي دولت مکلفيت لري چې خلکوته دکارپه مقابل کې دخوراک،پوښاک دصحت اوتعليم خدمات برابرکاندي

## تاریخي شالید

کمونېزم داوسني وخت زېږنده نه ده اونه يې مارکس بنسټګردی بلکې تاریخي سابقه لري دميلادنه نولس پېړۍ پخواليکوغورس په يونان کې عملی کړنولی څمکې يې مصادره اوبيايې مساوي وويشلې دماشومانواجتماعي پالنه دولت پرغاړه واخېسته که چېرته به کوم ماشوم معيوب نړۍته سترګې پرانستې موريې په وژلومکلفه وه. په دويمه قبل الميلادپېړۍکې د يهودويوه ډله دعمومي ملکيت غوښتونکې اودمساوات مدعی شوه دشتمنوپرخلاف يې مبارزه اعلان کړه ،په څلورمه قبل الميلادپيړۍ کې افلاطون دهمدغه نظام دتطبيق پلوي وکړه دشتمنيواودښځو اشتراک يې اعلان کړ.په شپږمه ميلادي پېړۍ کې ايراني مزدک په فارسي ملت کې د دشتمنيواودښځود اشتراک مدعي شو.

په اولسمه ميلادي پېړۍ کې ايټالوي مفکر(کامبافيلا)ديوکتاب په ليکلولاس پورې کړدهغه نظر داؤ چې شراوبدي دثروت په عمومي کولوله منځه ځي. همدارنګه په نولسمه پېړۍ په روسيه کې دنهلستانو په نوم يوه ډله دايراني مزدک دخوځښت په څېر رامنځته اودخير او عدالت اودفقراوغربت دله منځه تللو اعلان يې کاوه.

## د کمونيزم افکار او معتقدات

دالله تعالی له وجوداوله ټولومغيباتوڅخه انکارلکه روح ،جنت ،دوزخ ،ملايکې ،پيريان، وحی، اخرت اوپه دې باورچې ماده دهرشي اساس اوبنسټ تشکيلوی.مارکس ويلي دي چې الله عزوجل نشته اوژوندټوله ماده ده، لينن وايي هريوديني فکرچې په الله عزوجل باوري وي حماقت

اوجهالت دی په الله عزوجل باورپخوانی توره ارتجاع اودین دولسونودنښه کولووسیله ده، په کارده چې ددین پرخلاف جګړه اعلان شي.

دوی له ټولودینونوسره مقابله کوي ادیان دپانګوالې اواستعمارپه چوپړکې ګڼي . ځانګړی (شخصي )ملکیت له منځه وړي اودمیراث دلغوه کېدوپلوی کوي.

په ولسونود برچی په زورخپل فکرتحمیلوي.

کمونیزم ماده ازلي بولي او وایي چې ماده تل ده اوتل به وي اوله منځه نه ځي دوی طبیعت معبود بولي. په دی باور لرلي چي د دنیا له ژونده پرته نه اخرت شته ،نه عذاب او نه ثواب.

کمونیزم په اخ اوډب اوزورزیاتي باوري دی. لینن په دي باورلري چه که چیرته دکمونستي انقلاب دبري په لارکې د نړی د خلکو درې پر څلور برخې له منځه ولاړشي دا کار دې سرته ورسېږي.

کمونیزم په ټګی، خیانت اوغدر باور لري اگر که د خپل ګوند له غړو سره وي.

### د کمونستي نظام اقتصادي بنسټونه

دکمونستي نظام اصول په لاندې ټکوکې راخلاصه کوؤ

دفردی مالکیت بشپړلغوه کول او دولت ته يې تسلیمول.

د وس په اندازه کارکول اود حاجت په اندازه اجوره اخیستل.

دتولیداوتوزیع لپاره اقتصادې تګلاره جوړول.

په هرشي کې د خلکو مشارکت لکه ځمکه ،کور،جامه ،سامان ،غذايي توکي اوازدواج دضرورت پراساس توزیع ،دلته دشتمنی وېش

دکارپراساس صورت نه نیسی مارکسېزم وایي چې دکاراوکاریګرترمنځ هېڅ اړیکه نشته کاریګرچې هرڅومره کارکړی دخپل ضرورت له پوره کولو څخه پرته دهېڅ شي حق نلري کاردقدرت په اندازه اومعاش دحاجت په اندازه نوپه توزېع کې دکارموقف منفي دی .

## د سوسیالیزم اوکمونیزم ترمنځ توپیر

سوسیالیزم له کمونېزم سره دشتمنیوپه تمرکزیوشان نظرلري مګردتوزیع په سیستم کې سره جلاکېږی په کمونیزم کې توزیع دحاجت پراساس مګرپه سوسیالیزم کې دکارپربنسټ دکمونستي نظام دتطبیق لپاره لینن له خلکو دځمکوداخیستلو فرمان صادرکړ په زوردځمکو اومالونواخیستل څه اسان کارنه ؤدکمونستي پلان دتطبیق لپاره دوی نولس میلیونه وګړي په روسیه کې په دارځړولي دوه میلونه وګړوته یې سختې سزاګانې ورکړي په مرکزي اسیاکې یې اولس نیم میلونه خلګ له تیغه تېرکړي دقراقرم دجمهوریت یونیم میلیون وګړي یې وژلي اوټوله سیمه روسي ګرځول شوې ده. پنځه میلیونه خلك یې په روسیه کې سا بیریاته تبعیدکړي په مرکزي اسیااوروسیه کې یې دېرش میلیونه دکرکیلې غوایي اوڅلویښت میلیونه اسونه له منځه وړي،په روسیې اومرکزي اسیاکې یې پنځوس زره جوماتونه داسونواوغوایانوپه غوجلواودګداااونڅاپه مراکزوتبدیل کړي .دروسیې اقتصاد او کرکیله درکود سره مخامخ شوه نو لینن د مارکس فلسفه تغیر کړه اوکاریې دتوزېع معیار وباله سوسیالستي اقتصادوایي! کارګر هغه څوك دی چې دخپل کار په وسیله یې مادې ته تبادلي ارزښت ورکړی کار دقیمت اساس دی

نوکاردقدرت په اندازه اومعاش دکارپه اندازه دتوزیع یواځنی وسیله کاردی نوپردې اساس لینن دمارکس فلسفه تغیرکړه

## عیبونه اونیمګړتیاوې یې

۱. د فرد ازادي او شخصیت له منځه وړل.

۲. په فردي ملکیت پابندي اودبشرله فطرت سره چګړه.

۳. دتولید دکمیت اوکیفیت راټیټېدل ځکه چې هلته فردي ملکیت سیالی اورقابت نه وي .

۴. اخلاقي اوټولنیز فساد ته وده لکه زنا ،رشوت اوغلا .

۵. ټولودینونو، قوانینو اواخلاقو سره بشپړ ه مقابله اوهغوته دتورې ارتجاع اوبورژوازي نظام په توګه کتل.

۶. داقتصادي ازادی خاتمه : په کمونستي نظام کې شخصی ملکیت پای ته رسیږي هرفرددټولنې دماشین یوه پرزه ګرځي دبشرازادي ،اراده اوشخصیت سخته ضربه ویني.

۷. دبشرفطري استعدادله منځه وړل : داچې ټول تولیدي وسایل دحکومت په لاس کې دي نوځکه هرفردته حکومت تنخواورکوي اوپه تنخوا کې دچافرق نه وي نودلوړاستعدادخښتنانوته دهغوی داستعدادپه برابرمعاش نه ورکول .

۸. دمصرف کوونکیودازادی ختمول :په کمونستي نظام کې اقتصادي ازادي نه وي ځکه چې دحکومت له خوایواځې یوشی تولیدیږي دټولنې هرمصرف کونکی مجبوردی هماغه شی مصرف کړي

۹. دکاردشوق اوسیالۍ خاتمه:په کمونستي نظام کې چې کله اقتصادي ازادي ختمه شي نوبیاپه خلکوکې دزړه داخلاصه دکارکولواوله نوروسره دسیالۍ جذبه پای ته رسیږي.

۱۰. دحکومتي کارکونکیوبې پروایي.

۱۱. دسیاسي اواقتصادي قدرت تمرکز:دحکومت دنده دعواموخدمت هغوی ته دازادیوبرابرول اودهغوی استعدادونوته وده ورکول

۱۲. په دروغودمساوات چیغې وهل.

۱۳. کمونستي دکتاتوري اوقدرت تمرکز:دروسیې اوچین خلک ټول په کمونست گوندکې شامل نه دي هلته جبر،زور،استبداداوبرچه حکومت کوي دکمونستي نظام مثال هغه وزن ته ورته ده چې دمټوپه زورفضاته پورته کیږي.

۱٤. په کارگرانو مفت کار کول: د کمونست گوند لوړ مقامه شخصیتونه په بیلابیلو پلمو کارگران راغونډوي ورڅخه کاراخلي اومزدوري نه ورکوي یواځې په ډوډۍ یې بسیاکوي.

۱۵. دانساني شخصیت خاتمه اودځنگله دژویوپه رمه یې تبدیلول.

۱٦-دډېروټولنیزواړیکولغوه کول لکه میراث اوهبه .

## د اسلامي اقتصاد د نظام غوروالی

۱- پرمادیاتواومعنویاتو باور .

۲-باطني ساتنه .یعنې اسلامي اقتصاد دانسان دباطن او داخلي وجدان درمنله کوي،اودتل لپاره دالهي څارنې لاندې وی .داسلامی اقتصاد داټولې

لوړتیاوې په نفقاتو او لګښتونو کې وی، په ټولنه کې خپلوانو، اړو کسانو، فقیرانو، مسکینانو، یتیمانو او کونډو ته په ورکړه او همدارنګه د زکات ټولنیز تکافل اودنورو مثبتوکړنوبه برخه کې لکه دچل اوفریب په نه کولواودنورو دمال په نه خوړلوترسره کیږي .

۳-مزدوج اقتصاد(انفرادي او اجتماعي مالکیت) .

اسلامی اقتصادی نظام هم دفرد مالکیت داسلامي او معیارونو په چوکاټ کې اوهم ټولنیزمالکیت تنظیموي،که فرد ځانګړې پانګه ولري مجبور دی چې زکات او صدقه ورکړي ،همداسې حکومت هم ډیرمسؤلینونه دملت پروړاندې لري ،چې دط مزدوج او ټولنه کې عدالت تامینیږي.

۴-داخلاقو په دایره یا بند کې ازاداقتصاد : یعنې داسلام اقتصادی نظام دداسې آزاد بازاراقتصاد بازار نه دی چې سرمایه داران پکې هرحلال او حرام کار داقتصادی ازادی په نامه ترسره کړي او دخلکو له جیبونو پیسې چور کړی ،اونه هم هغسې دیکتاتور حکومت دی ،چې هرڅه وغواړط ترسره یې کړی ،بلکې په اسلامی اقتصاد کې خلك او حکومت مکلف دي چط داسلامي اقتصاد په اخلاقي او ایماني چوکاټ کې مقید وي او خپل اقتصادي چارې پر مخ یوسي .

## د مسلمانانو د اقتصادي پیاوړتیا او کمزورۍ لاملونه

## د پیاوړتیا علتونه او وجوهات

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړنوهلته یې دیوه اسلامي حکومت بنسټ کښیښنود،دعشراوزکات ،غنایمو،جزئیاو نورواقتصادي طرحوباندې یې عملا کار وکړاودیوه غښتلې اقتصادي ښیرازۍ نقشه یې طرحه کړه ،دده له رحلت نه وروسته

خلفاءراشدینودرسول الله صلی الله علیه وسلم سیاسي اواقتصادي نقشه پلې کړه ،ترفارس پورې دفتوحاتو لمن وغځوله اوداقتصادي پیاوړتیا سربیره یې په ځمکني اوسمندري برخوکې پرمختگونه وکړل،داموییانوپه دوره کې بیلابیل اقتصادي شرکتونه ترڈې چې دسوداگریزو او جنگي کښتیوفابریکې هم جوړې شوې ،داوخت مسلمانانوپیاوړی اقتصاد درلود.

اسلامي امت پولي واحدپه توگه په نړیواله کچه منل شوې سیکه درلوده ،ترڈې چې دفرانسې (۳۰)کیلومتری ته ورسیدل.

دعباسیانوبه دوره کې ه په اقتصادي برخه کې مسلمانانوبې سارې پرمختگونه وکړل،او دعثمانیانوپه دور خلافت کې مسلمانانوپه سیاسي او اقتصادي ډگرونوکې دپام وړ پرمختگ وکړاودامهال یې یو پیاوړی اقتصادي ځواک درلود ،چې لاملونه یېپدې ډول وو:

۱-داسلامي خلافت ترسیورې لاندې دمسلمانانو یووالی .

۲-داسلام په ټولونظامونو اومخصوصا په اقتصادي نظام ایمان او باور.

۳-له قران او سنت څخه داخستل شوې اقتصادي نظام تطبیق.

۴-داقتصاد او ساینس سربیره نوروټولو علمي برخوته پاملرنه کول.

۵-دپرمختگ،ساینس ددنیا دپریښودو له ذهنیت څخه لریوالی.

۶-درسول الله صلی الله علیه وسلم دسیاسي اواقتصادي نقشې پلې کول.

## د مسلمانانو د اقتصادي کمزوری لاملونه

داسلامي خلافت سقوط اوداستعماراوښکیلاک ظهور.

۲- داسلام اقتصادي نظام له منځه تلل .

۳-دغیراسلامي اقتصادي نظامونه رامینځته کول .

۴-دکپیتالیستی او سوسیالستي اقتصادي نظامونوڅخه دمسلمانانو اغیزمن کیدل.

۵-دمسلمانانوسره په همغږۍ کې داستعمارګرو دربښتینولی نه شتون.
نوټ :داستعمارګرو موخه دانه وه چې یوازې خپل اقتصادي نظام په اسلامي نړۍ کې پلی کړې بلکې اساسي موخه یې داسلامي نړۍ استعمار،داقتصادي سرچینو اخستل ،اواسلامي نړۍ دغرب په مصرفي بازار بدلول وو،نوپه اسلامي نړۍ کې دغربي نظامونوپلي کولو نه یوازې دمسلمانانوداقتصادي پرمختګ لامل نشول بلکې نورې ډیرې ستونزې یې وزیږولې چې څویې دبیلګې ډول یادوو:

۱-اسلامي نړۍ دلویدیځ په مصرفي بازار بدلول.

۲-دلویدیځ به لاس دنړخونولوړوالی او ټیټوالی .

۳-دمعدني شتمنیو چور اوچپاول.

۴-دنورو په ځانګړې توګه داسلامي نړۍ پوروړې کول (قرضداري کول).
نوټ : داسلامي پراختیایي بانک دراپور پر بنسټ په (۱۹۹۹)کال کې (۸۶)میلیارده ډالره یوازې اسلامي هیوادونه پوروړې وو،چې اوس نشی کولای چې داپور خلاص کړي او دتولید فکرخوهیڅ نشي کولای .
۵-دسوسیالیستي او کاپیټالیستي اقتصادونو دپلي کیدو ناکامي .
نوټ : سوسیالیستي نظام پلې کولوشوروی اتحاددماتې سبب شو او پانګه وال نظام پلي کول مسلمانان له اقتصادي فقرڅخه دمرګ او ورکاوی ترحده ورسول.

۶-دبي وزله هیوادونودمالونولوټول (چورکول).

نوټ :ځیني اقتصادپوهان وايي چې دشلمې پيړۍ په پنځمه اوشپږمه کې دچورچپاول شمیرپه کال کې دوه ميلیارده ډالرو ته رسیده .

۷-دنړۍ دټولوهیوادونوپراقتصادباندې دنړیوال توب (گلوبلایزیشن )په نامه نامه واکمني کول .یعني لویدیځ غواړي چې دنړیوال اقتصادي قانون له نوم څخه په گټه اخستنه اسلامي هیوادونه دخپل اقتصادي او سیاسي استعمار لاندې راولي .

## دمسلمانانوداقتصادي ستونزو حل لارې

### ۱-په رښتیني باور سره دایمان پیاوړتیا

لکه دانسان په بدن کې دسترگو اناتومې اوفیسولوجي ،سترگه دانسان دسرپه کاسه کې پداسې شکل ایښودل شوې چې پر سر یې بانه او وریځې دي ،دسترگوپه مینځ کې تروشی اوبه دي ،خوښکلااوبصارت یې له ورایه ځلیږي اوکتلوښه نظام دی ،همداسې اسلام کې اقتصادي نظام هم دهمدې نظامونو له زمرې نه دی ،لوح محفوظ کې الله تعالی لیکلی ،ثبت کړی او ترقیامته پورې به همداسې روان وي ،که چیرته دچا سترگه ړنده اوپرځای یې بله سترگه کښیښودل شي نو حتمي ده چې ښکلا یې له منځه ځي همداسې داسلام له اقتصادي نظام نه په غیرکه نور نظامونه پلې سکون او ارام به پکې نه وي .

### ۲. درسول الله صلی الله علیه وسلم سیاسي او اقتصادي نقشه پلې کول .

لکه څنگه چې دانسان دبدن غړي الله تعالی په داسې ښه جوړکړي چې که داغړې سم موازي حرکت وکړي نوانسان نورمال حالت کې ساتي ،همداسې داسلامي معنوي جثه ده ،که ټول مسلمانان داسلامي امت دغړو په توگه گډ کاروکړي، اوخپله معنوي جثه ژوندۍ وساتي دهیڅ غلیم وسه به پرې ونشي ،خوکه دښمنانویې لاسونه ،پښې او دزړه شیریانونه پرې کړل نوبیا

به ددې ژوند ناشونې وي ،نن چې استعمارامت برخې برخې کړ،اودزوه شیریانونه یې سره پرې دی ،نوځکه دیوه واحد امت په توګه نشی څرګندیدای .

پایله داشوه چې :دیادو ننګونو،ستونزو او کړاوونوبنسټیزه لاره درسول الله صلی الله علیه وسلم نقشې ته بیرته ګرځیدل دي ،هغه نقشه چې دحبشي بلال رض دافریقا له قارې نه ،سلمان فارسي رض له فارسي ایران او صهیب رض له روم څخه دځپلو ولسونوپه استازولۍ نورو مسلمانانوسره ګډ ژوندوکړ،په اسلامی نصام کې باید هیڅوک دپردیتوب احساس ونکړي اوټول دیوه جسم په توګه اسلامی ات جوړ کړي .

## ۳. قران کریم اوسنتو ته بیرته ورګرځیدل

که څه هم مسلمانان دقران او سنتودعملی دعوی کوی ،مګرددوئ اقتصاد دغرب او شرق داقتصادي نظام څخه اغیزمن دی ،اوپه ختیځ او لویدیځ اقتصادي نظام کې اسلامی حکمونه له منځه تللې دی ،هیڅ داسې داسې حکومت نشته چې داسلام هغه اقتصادي قوانین پکې پلې وي ،چې هغه دې له قران او سنت نه سرچینه واخلي !

سوسیالیزم کې ټول ملکتیونه ټولنیزاو ملي وي ،کاپیټالیزم کې ټول مالکیت دفرد وي خواسلامی اقتصادنظام کې بیا ټول دفرد او ټولنې مشترک وي .لکه ونه چې بیلابیل خلک یې مخې ته ولا اوهرڅوک ترې خپله ګټه اخلې .

شیخ سعدی وایې : برګ درختان سبزدرنظر هوشیار/هرورقش دفتریست عرفت کردګار.

**۴-داقتصاداو ساینس سربیره ټولو برخوته پاملرنه**

الله تعالی فرمايي : وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لاَ تُظْلَمُونَ(۱۶۰\ الانفال ).

ژباړه : ددښمنانوپروړاندې له ټول ځواک نه کار واخلئ،کوم مو چې په وس کښ وي ،دآسونو له ځواک څخه ګټه واخلئ ترڅو دالله تعالی اوخپل دښمنان پرې وویروئ.

ددط آیت شریف پر بنسټ پرمسلمانانو فرض دي ،چې ایمانداره کادرونه دنوط تکنالوژۍ او معاصرو سره سم وروزئ!

قال أبو علي الروذباري ، في قوله : {وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة} ، فقال : القوة هي الثقة بالله. ( البحرالمدید فی تفسیر القران المجید)

## اسلام کې د اقتصادي ستونزونه د وتلو حل لاره

په لنډه توګه به داسې ووایوچې داسلام له نظره اقتصادي بډاینې ،ښیرازي اوپرمختګ دالله تعالی په رحم وکرم پورې اړه لري ،کله چې کوم قام کې فقر،غربت او اقتصادي ځوړتیا راځي وجوهات او لاملونه یې دبنده ګانو ګناهونه اوجرایم وي ،حللاره یې توبه او استغفار دی ،نړدي عامو تفاسیرو دلاندینو آیتونوتفسیرونه همداسې کړی دي .

الله تعالی فرمايي : {وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَتَاعاً حَسَناً إِلَى أَجَلٍ مُسَمّىً}، تفسیر: دا آیت کریمه پدې دلالت کوي چې له ګناهونو څخه استغفاراوالله تعالی ته له معاصیو نه توبه ایستل ددې سبب دی چې الله تعالی دې توبه ایستونکې او مستغفر شخص ته پراخه روزې ،خوشحاله ژونداو دنیاکې عافیت ورکړي ، لکه تفسیرالاضواءالبیان پدې

عبارت سره داآيت تفسيروي : هذه الآية الكريمة تدل على أن الاستغفار والتوبة إلى الله تعالى من الذنوب سبب لأن يمتع الله من فعل ذلك متاعاً حسناً إلى أجل مسمى؛ لأنه رتب ذلك على الاستغفار والتوبة ترتيب الجزاءص - ١٧٠- على شرطه.

والظاهر أن المراد بالمتاع الحسن: سعة الرزق، ورغد العيش، والعافية في الدنيا، وأن المراد بالأجل المسمى: الموت همداسې دروزی په پراخوالې او دهوساژوند لپاره خورا اغيزمن سببونه دلاندينو پيغمبرانوعليهم السلام ويناوې دي چې خپلو قومونوته يې کړې وی او الله تعالى مونږته دحکايت په ډول رانقل کړې دي ،يوددوئ پيغمبرانو ع څخه هود عليه السلام ووچې خپل قوم ته يې داسې وويل: {وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ} [١١/٥٢]، وقوله تعالى عن "نوح": {فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّاراً يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَاراً وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَاراً} [٧١/١٠-١٢]، وقوله تعالى: {مَنْ عَمِلَ صَالِحاً مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً} الآية[١٦/٩٧]، وقوله: {وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ} الآية [٧/٩٦]، وقوله: {وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ وَالْأِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِنْ رَبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ} [٥/٦٦]، وقوله {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجاً وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لا يَحْتَسِبُ} [٦٥/٢، ٣]، إلى غير ذلك من الآيات.

(تفسير اضواء القران فى ايضاح القران بالقران )

وقوله تعالى { قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَآئِنَ رَحْمَةِ رَبِّيَ إِذاً لأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الإِنفاق وكَانَ الإنسان قَتُورا } [ الإسراء : ١٠٠ ] .

وقوله في هذه الآية الكريمة { يَبْسُطُ الرزق لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِر } جاء معناه موضحاً في آيات أخر كقوله تعالى { قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرزق لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ } [ سبأ : ٣٩ ] الآية . وقوله تعالى { قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرزق لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ولكن أَكْثَرَ الناس لاَ يَعْلَمُونَ } [ سبأ : ٣٦ ] وقوله تعالى { الله يَبْسُطُ الرزق لِمَنْ يَشَآءُ وَيَقَدِرُ وَفَرِحُواْ بالحياة الدنيا } [ الرعد : ٢٦ ] الآية . وقوله تعالى : { والله فَضَّلَ بَعْضَكُمْ على بَعْضٍ فِي الرزق } [ النحل : ٧١ ] الآية . وقوله تعالى : { نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَّعِيشَتَهُمْ فِي الحياة الدنيا } [ الزخرف : ٣٢ ] الآية . وقوله تعالى { يَكُنْ غَنِيّاً أَوْ فَقَيراً فالله أولى بِهِمَا } [ النساء : ١٣٥ ] الآية . وقوله تعالى { لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّآ آتَاهُ الله } [ الطلاق : ٧ ] الآية . وقوله تعالى : { وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُه } أي ضيق عليه رزقه لقلته . وكذلك قوله { يَبْسُطُ الرزق لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِر } في الآيات المذكورة .

أي يبسط الرزق لمن يشاء بسطه له ويقدر ، أي يضيق الرزق على من يشاء تضييقه عليه كما أوضحناه في سورة الأنبياء في الكلام على قوله تعالى { فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْه } [ الأنبياء : ٨٧ ] .

وقد بين جل وعلا في بعض الآيات حكمة تضييقه للرزق على من ضيقه عليه .

وذكر أن من حكم ذلك أن بسط الرزق للإنسان ، قد يحمله على البغي والطغيان كقوله تعالى { وَلَوْ بَسَطَ الله الرزق لِعِبَادِهِ لَبَغَوْاْ فِي الأرض ولكن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرُ بَصِيرٌ } [ الشورى : ٢٧ ] ، وقوله تعالى : { كَلاَّ إِنَّ الإنسان ليطغى أَن رَّآهُ استغنى } [ العلق : ٦ - ٧ ] .

(اضواءالبيان فى تفسيرالقران بالقران)

وقال في الكفران وعواقبه : ﴿ وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُواْ يَصْنَعُونَ ﴾.

عن ثوبان رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : لا يرد القدر إلا الدعاء و لا يزيد في العمر إلا البر و إن الرجل ليحرم الرزق بالذنب يصيبه. (المستدرك علي الصحيحين للحاكم)

قال تعالى: (وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ وَلَكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ) . [الأعراف:۹٦.

ژباړه: که دکليو خلکو ايمان راوړی وی اودپرهيزګاری کړنلاره يې خپله کړای وی نومونږبه پرهغوئ دآسمان اوځمکې دبرکتونو دروازې خلاصي کړی وی ،خوهغوئ ددرواغو نسبت وکړنومونږ ځکه دهغوئ ناوړه ګټې له امله هغوئ ونيول چې راغونډولې يې .

پدې آيت کريمه راغلل چې ايمان او تقوی داسلامی اقتصاد ترټول مهم اساس دی ،په ټولنه کې برکت او مينه همدا دوه عنصره راميځته کوي ،لکه اقتصاد پوهان چې وايې داقتصاد موخه ديوې باثباته اوپرځان بسيا ټولنې رامنځته کول دي .

**نتيجه (پایله)**

د اسلامي او غیر اسلامي اقتصادي نظامونوله برنامو اوڅیړنو وروسته دې پایلې ته رسیږو، چې د لویدیځ د کاپیټالیزم او د پانگه وال اقتصادي نظام چې بنسټ یې په سود، بډو، رشوت، احتکار، غلا او چپاول باندې ایښودل شوی، او هم د سوسیالیزم د اقتصادي نظام سولیدلې برنامې، چې مفکوروي ترمینالوژي یې په نا انډوله او ناروا اشتراکیت باندې ایښودل شوی، د تجربو لابرتوار وښوده، چې د اسلام د اقتصادي نظام اوهغې طرحې په وړاندې داټول غیراسلامي اقتصادي نظامونه سرکوزې دي ،چې بنیاد یې په فردی او ټولنیزمزدوج اقتصادي نظام باندې راڅرخي ،اودبشري فطرت اوطبعې غوښتنواو تقاضاوو سره موازې اړخ لگوي .داسلام اقتصادي نظام چې له وحی نه سرچینه اخلي ،اوټول غیر اخلاقي اوداختلاس ،بډو ،غلاوو ،سود ،قمار ،رشوت اوپه نورو نا متوازنومعیارونومتمرکزاقتصادي برنامې مستردوي ،دانسان دفطرت اوسلیقي سره متجانس اقتصادي نظام دبشریت دفلاح او سعادت لاره بولي.

## وړاندیزونه

۱-که غواړوچې سالم او پیاوړی اقتصاد ولرو،اړینه ده، چې دیوه مسلمان په حیث دلویدیځ او ختیځ  داقتصادي پروژوله مصنوعي وړانګونه ځانونه اغیزمن نکړو،بلکې دهغې پرځای باید دخپلو معنویاتوابعادو ته په کمال تفکراو تدبرورننوځو.

۲-لویدیځوالوصنعتي انقلابیانوچې دساینس،تکنالوژي اوصنایعو علم زمونږله قرطبي ،غرناطې او  نه زده کړی ،خپل تیربرم ته په کتو بایددایمان او توحید ستره پانګه ددې مصنوعي تولیداتونه کمه ونه ګڼواونه دخپلې داسلامي خاورې پټ معدنیات او طبعي ذخایردخپل ستونزمن اقتصادپه بډاینه کې نا کافي وبولو.

۳-دخپلواقتصادي ستونزودحل لپاره دایمان،تقوی ،استغفار ،توبې اودرب العلمین په دربار کې دلاسونو لپه کولوڅخه پرته یوه اقتصادي نسخه هم کارنه ورکوي، نو باید چې ټول مسلمانان د نا مسلمانو جوامعو غوندې د مادیاتو د اتکا پرځای پر معنویاتو اتکا وکړي او بس.

## ماخذونه


١. تفسير الجامع لاحكام القران

٢. اضواءالبيان تفسيرالقران بالقران

٣. احكام القران لابن العربى

٤. (البحرالمديد فى تفسير القران المجيد)

٥. (المستدرك علي الصحيحين للحاكم)

٦. لسان العرب دال باب قاف څپرکی

٧. الكتاب الصحاح فى اللغة

٨. نړیوال کول /دکتور یوسف قرضاوی تالیف

٩. فصلنامه مطالعات راهبردی

١٠. نظام اقتصادی اسلام /استاذعبدالظاهر داعی تالیف

١١. داسلام اقتصادی نظام /مولوي محمدشریف رحمانی تالیف

١٢. المكتبة الشاملة

١٣. الموسوعة الفقهية الكويتية

١٤. (النظام الاقتصادى فى الاسلام )مولف شيخ قحطانى .

١٥. مغنى المحتاج الى معرفةمعانى الالفاظ المنهاج لشمس الدين محمدبن احمدالخطيب الشربينى

١٦. المبسوط للسرخسى ج٩ص٣٢٧

١٧. دررالحكام شرح غررالاحكام محمدبن فرامرزعلى الشهيربملاخسرو